ADMINISTRATION FOR CHILDREN & FAMILIES
Office of Refugee Resettlement | 330 C Street, S.W., Washington, DC 20201
www.acf.hhs.gov/programs/orr

## د اداري بیاکتنې اړوند خبرتیا

محترم ښاغلې/آغلې [د UC بشپړ نوم ولیکئ]:

په **[نېټه]** ، تاسو [د خوندي پاملرنې خدماتو د چمتو کوونکي، د خوندي چارو د کارمندانو، RTC] سره د خپل ځای پرځای کولو اړوند چارو د بیاکتنې غوښتنه وکړه. د کډوالو د بیا میشتیدنې د دفتر (ORR) لخوا به د لوړې کچې دریو کارمندانو یوه ډله چې د ځای پرځای کولو اړوند چارو د بیاکتنې هیئت (PRP) په نوم یادیږي، د هغې پریکړې په اړه بیاکتنه وکړي چې له مخې یې تاسو په یو محدود چاپېریال کې ځای پرځای کېږئ. د دې هیئت هیڅ یو غړی به په هغه اصلي پریکړه کې ښکیل نه وي چې له مخې یې تاسو ته ځای درکوي یا په اوسني چاپېریال کې ستاسو ځای پرځای کولو ته دوام ورکوي. هیئت به دا معلومه کړي چې آیا په اوسني تاسیساتو کې په دوامداره توګه ستاسو ځای پرځای کولو د ملاتړ لپاره کافي معلومات شته که څنګه.[1]

د PRP د اقداماتو مخکې، مهرباني وکړئ لومړی لاندې مواردو ته متوجه اوسئ:

- کېدای شي تاسو یو وکیل ولرئ چې هغه ستاسو استازیتوب وکړي او/یا د PRP په پروسه کې ستاسو سره مرسته وکړي.
- که تاسو مخکې دا کار نه وي کړی، تاسو باید په دې اړه د وکیل (قانوني استازی) او/یا د ماشوم د مدافع وکیل سره خبرې وکړئ. که تاسو وکیل یا د ماشوم مدافع وکیل نه لرئ، ستاسو د قضیې مدیر به تاسو د قانوني خدماتو چمتو کونکي ته معرفي کړي ترڅو هغوی ستاسو سره په دې برخه کې مرسته وکړي.
- تاسو او/یا ستاسو استازی (وکیل یا د ماشوم مدافع وکیل) ته به ستاسو د ټولې قضیې یوه کاپي درکړل شي. سربیره پردې، تاسو او/یا ستاسو استازي ته به په لیکلې بڼه د هغه اسنادو یوه کاپي درکړل شي چې د همدې اسنادو له مخې برنامه او د فدرالي ادارې ساحوې متخصص ستاسو د اوسني میشتېدنې اړوند پریکړه کړې وي. دې اسنادو ته د شواهدو سوابق ویل کیږي.
- تاسو او/یا ستاسو استازی (وکیل یا د ماشوم مدافع وکیل) به دا فرصت ولري چې ستاسو د موقف یا حالت د ملاتړ لپاره په لیکلي بڼه بیانیه چمتو کړئ.
- تاسو او/یا ستاسو استازی (وکیل یا د ماشوم مدافع وکیل) کولای شي په اختیاري توګه د قضیې د اورېدنې غوښتنه وکړئ، چې هلته تاسو یا ستاسو استازی کولای شئ په شفاهي ډول خپل بیان واوروئ، شاهدانو ته زنګ ووهئ او یاهم پوښتنې وکړئ.

ستاسو د ځای پرځای کولو چارو د بیاکتنې لپاره PRP دوه انتخابه لري. یو انتخاب دا دی چې له PRP څخه وغواړئ چې یوازې د لیکل شویو اسنادو (د شواهدو د ثبت او سوابق او ستاسو د لیکلي بیان) پر بنسټ پریکړه وکړي. د PRP لپاره دوهم انتخاب دا دی چې دواړه هم د لیکل شویو اسنادو (د شواهدو سوابق او

[1] تاسو کولای شئ د ځای پرځای کولو په اړه د ORR پالیسۍ وګورئ دا د ORR د بې سرپرسته ماشومانو برنامې د پالیسی لارښود، 1 برخه کې موندلای شئ: په ORR Care Provider Facilities کې د ځای پر ځای کېدو اړوند مالومات دلته موندلای شئ https://www.acf.hhs.gov/orr/resource/children-entering-the-united-states-unaccompanied-section-1#1.1.

د عامه بار بیان: د دې معلوماتو راټولولو هدف د ځای پرځای کولو بیاکتنې پینل غوښتنو (Pub. L. 104-13) د 1995 کال د کاغذ کار کمولو قانون ځای په ځای کول، UC رسیدلو خبرتیا او د راتلونکو ګامونو په اړه معلومات چمتو کول دي کله چې بیاکتنې غوښتنه کیږي. په یو محدود ترتیب کې د یا د دوی استازي څخه د معلوماتو غوښتنه کول. د معلوماتو د دې UC لخوا اړتیا سره سم د ORR او د ځای پرځای کولو بیاکتنې ترسره کولو لپاره د راټولولو لپاره د عامه راپور ورکولو بار په اوسط ډول په هر ځواب کې 0.83 ساعته اټکل شوی، په شمول د لارښوونو بیاکتنه، د اړینو معلوماتو (Flores v. Reno Settlement Agreement, No. CV85-4544-RJK راټولول او ساتل، او د معلوماتو راټولولو بیاکتنه. دا د معلوماتو یوه لازمي ټولګه ده یوه اداره ممکن د 1995 کال د کاغذ کارۍ کمولو قانون اړتیاو سره سم د معلوماتو راټولولو ترسره کولو یا سپانسر کولو ته اړتیا ونلري (C.D. Cal. 1996) او یو فرد اړتیا نلري چې ځواب ورکړي
دی او د ختمیدو نېټه 04/30/2023 ده. که تاسو د دې معلوماتو راټولولو په اړه OMB # 0970-0554 کنټرول شمیره ښکاره کړي. د OMB اوس مهال د اعتبار وړ
سره اړیکه ونیسئ UCpolicy@acf.hhs.gov کوم نظر لرئ، مهرباني وکړئ د.

ستاسو ليکل شوی بيان) بياکتنه وکړي او هم د قضيې اوريدنه ترسره کړي. د دواړو انتخابونو اړوند لارښوونې لاندې تشريح شوي دي.

**<u>لومړی انتخاب: يوازې د ليکلو اسنادو بياکتنه</u>**

په دې انتخاب کې، PRP يوازې ستاسو، د پروګرام او د فدرالي ادارې د ساحوي متخصص (FFS) لخوا په ليکلې بڼه چمتو شويو معلوماتو ته په کتو پريکړه کوي. مور ستاسو او/يا ستاسو د استازي د بياکتنې لپاره په اسنادو کې د برنامې اړوند يوه کاپي او د FFS د شواهدو سوابق هم ضميمه کوو. مهرباني وکړئ تر [نېټې] پورې خپل ليکل شوی بيان PRP ته واستوئ. تاسو کولای شئ خپل ليکل شوی بيان PRP ته واستوئ يا له خپل استازي څخه غوښتنه وکړئ چې دا بيان د برېښناليک له لارې UCHearings@acf.hhs.gov ته ولېږي يا هم ستاسو د قضيې مدير ته يې يوه کاپي ورکړي چې هغه ستاسو په استازيتوب د برېښناليک له لارې دا اسناد PRP ته واستوي.

هيئت به د ليکل شوي بيان د ترلاسه کولو څخه وروسته تاسو ته د اووه (7) ورځو په ترڅ کې د خپلې پريکړې په اړه خبر درکړي. کېدای شي هيئت د FFS پريکړه تاييد کړي او ستاسو د اوسنۍ مېشتېدنې يا ځای پرځای کولو اړوند ستاسو غوښتنه رد کړي، يا د لا ښه غور او بياکتنې لپاره ستاسو غوښتنه FFS ته راجع کړي، يا ستاسو غوښتنه د دې لارښوونو سره يوځای ومني چې تاسو غواړئ د پاملرنې اړوند مختلفې کچې ته انتقال شئ. د هيئت په پريکړه کې به په ليکلې بڼه لنډ هغه توضيحات ضميمه وي چې د دوی د پريکړې ملاتړ کوي.

**<u>دوهم انتخاب: د ليکلو اسنادو بياکتنه او په اختياري اوريدنه کې ګډون</u>**

په ليکلې بڼه د پورته ذکر شويو اسنادو د چمتو کولو سربيره، تاسو کولای شئ د ويډيو کنفرانس له لارې په اختياري ډول د قضيې اوريدنې غوښتنه وکړئ. دا اوريدنه تاسو او/يا ستاسو استازی ته دا وړتيا درکوي چې شاهدي وړاندې کړي او د هيئت په وړاندې د شاهدانو څخه پوښتنې وکړئ. په دوامداره توګه په اوسنيو تاسيساتو کې ستاسو د ځای پر ځای کولو د ټاکنې لپاره به FFS د يو مسؤول ارګان په توګه همدلته وي او دا فرصت به ولري چې شواهد وړاندې کړي او له تاسو يا نورو شاهدانو څخه پوښتنې وکړي. تاسو به هم دا فرصت ولرئ چې له FFS څخه پوښتنې وکړئ. پريکړه به د قضيې د اوريدنې څخه وروسته د اووه (7) ورځو کې په ترڅ کې د هيئت لخوا چمتو شي.

که تاسو غواړئ د قضيې په اړه اوريدنه وشي، ستاسو استازی بايد PRP ته هغه وخت خبر ورکړي چې دوی UCHearings@acf.hhs.gov ته ليکلي اسناد استوي. که تاسو استازی نه لرئ، د خپل قضيې له مدير څخه وغواړئ چې PRP ته په دې اړه هغه وخت خبر ورکړي چې دوی ستاسو په استازيتوب PRP ته ستاسو ليکلي اسناد ورکوي.

**<u>ستاسو راتلونکی ګامونه</u>**

1. د استماعيه غونډې يا اوريدنې د غوښتنې لپاره خپل ليکلی بيان او پريکړه تر **[نېټه] پورې** UCHearings@acf.hhs.gov ته واستوئ

2. <u>د هغو کسانو لپاره چې د قضيې د اوريدلو غوښتنه کوي</u>، مهرباني وکړئ لاندې معلومات چمتو کړئ.
   a. د وکيل يا ماشوم مدافع وکيل نوم، برېښناليک آدرس، او د تليفون شميره چې ستاسو استازيتوب کوي.
   b. ستاسو د خوښې ژبه
   c. آيا تاسو ژباړونکي ته اړتيا لرئ (که ستاسو استازی ستاسو لپاره ژباړونکی چمتو کړي).
   d. د هغو شاهدانو نومونه او برېښناليک پتې چې تاسو پلان لرئ په اوريدنه کې ورته زنګ ووهئ.
   e. که تاسو کومه ځانګړې غوښتنه لرئ.